# د افغانستان د کرنیزو علومو او ټکنالوژۍ ملي پوهنتون

# او

# د فراه د لوړو زده کړو مؤسسې

# ترمنځ

# دوه اړخیزه هوکړه لیک

کال: ............................................ ۱۴۴۶ هـ ق

Scanned with CamScanner

# نوملړ


سریزه ........ 3

لومړې ماده ........ 4

الف: بنسټ(مبنی) ........ 4

ب: ګډون کوونکي اړخونه ........ 4

ج: موخې ........ 4

دوهمه ماده ........ 4

الف: د همکارۍ ساحې ........ 4

ب: ګډې هوکړې(توافقات مشترک) ........ 5

ج: د دواړو اړخونو ژمنې (تعهدات) ........ 5

دریمه ماده ........ 5

الف: مالي چارې ........ 5

ب: د اختلافاتو حل ........ 6

ج: بیا کتنه، اصلاح او تغیر ........ 6

څلورمه ماده ........ 6

الف: ژبې او د ارزښت موده ........ 6

ب: تمدید او فسخ ........ 7

ج: عملي کول(تطبیق) ........ 7




Scanned with CamScanner

الحمد لله رب العالمین والعاقبة للمتقین والصلاة والسلام علی رسوله محمد و علی آله و أصحابه اجمعین.

{وَتَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوَى وَلا تَعَاوَنُوا عَلَى الإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ...}.

## سریزه

دغه هوکړه لیک د هېواد د مسلکي لوړو زده کړو او همدارنګه په اړوندو برخو کې شته طرزالعملونو، لوایحو او مقرراتو په پام کې نیولو سره د افغانستان د کرنیزو علومو او ټکنالوژۍ ملي پوهنتون(اناستو) او فراه د لوړو زده کړو مؤسسې ترمینځ لاسلیک کېږي؛ د افغانستان د کرنیزو علومو او ټکنالوژۍ ملي پوهنتون (ANASTU) چې په ملي سطح د کرنیزو علومو او ټکنالوژۍ په برخو کښې د لیسانس او فوق الیسانس په کچه زده کړیالان روزي. یاد پوهنتون د ۲۰۱۴ کال د فیبروري په ۲۰ نیټه (۱۳۹۲/۱۲/۰۱هـ ش) د کندهار ولایت د پخواني ترنک فارم په ساحه کې پرانیستل سو. دا پوهنتون د لوړو زده کړو وزارت په چوکاټ د افغانستان د ملي ستراتیژۍ په رڼا کې د دې لپاره جوړ سو چې د نباتي، حیواني، وترنري او کرنیز اقتصاد په علومو کې د لیسانس او فوق لیسانس په کچه علمي کادرونه و روزي. کرنیزه زده کړه د ځېړنو ترویج د اناستو پوهنتون له اساسي ستنو څخه شمیرل کیږي. اوس مهال یاد پوهنتون د لیسانس په برخه کې په ۴ پوهنځیو او ۱۷ څانګو کښې همدا راز د فوق الیسانس په برخه کې په ۸ څانګو کې زده کړیالان په زده کړو بوخت دي. همدا راز د فراه د لوړو زده کړو مؤسسه د هیواد په سطح یو اکاډمیک مرکز دی چې په کال ۱۳۹۱هـ ش د وږي په میاشت کې د باغ نو په ساحه کښې د دوو څانګو په درلودلو سره د ښووني او روزني پوهنځۍ کې خپل په فعالیت پیل وکړ چې په کال ۱۳۹۲هـ ش کښې د کرهنې پوهنځۍ د دوو څانګو (کرنیز اقتصاد او توسعې او اګرانومي) او ۵ نورو څانګي د ښووني او روزني پوهنځۍ په تشکیل کې منظور سوې. نوموړې مؤسسه په کال ۱۳۹۶هـ ش کې خپل اصلي ځای استراتیژیکي نقطې ته یې نقل مکان وکړ چې ۲۰۰۰ جریبه ساحه ده، د کرهنې وزارت لخوا د فراه د لوړو زده کړو مؤسسې ته ورکول سوه. په کال ۱۳۹۸هـ ش کې د اقتصاد پوهنځۍ د دوو څانګو(ملي اقتصاد او اداره او تجارت) سره منظور سوه. په کال ۱۴۰۱هـ ش کې د شرعیاتو پوهنځۍ د اسلامي تعلیماتو او د فقه او قانون څانګو په درلودلو سره منظور سوه، همدارنګه په کال ۱۴۰۲هـ ش کې د نوموړي مؤسسې د رهبرۍ په هلو

خلو سره د عامه اداري او پالیسي پوهنځی د لوړو زده کړو وزارت په همکارۍ سره یې منظوري ترلاسه کړه چې اوس مهال نوموړې مؤسسه د ۵ پوهنځیو او ۱۸ څانګو په درلودلو سره ۸۵۰ زده کړیالان او ۷۴ تنه کادري غړي د دوکتور،ماستر او لیسانس په کچه لري. یاد هوکړه لیک په دې موخه چې د دواړه پوهنتونونو په اړوندو برخو (تحصیلي، فرهنګي او اجتماعي او په څانګړې توګه په تحقیق، تحصیل او خدماتو) کې لازمه همکاري ترسره او مشورې سره شریکې کړلای سي لاسلیک کیږي.

## لومړۍ ماده

**الف: بنسټ(مبنی)**

داچې د اناستو پوهنتون او فراه د لوړو زده کړو مؤسسه دواړه د افغانستان اسلامي امارت د لوړو زده کړو وزارت تر چتر لاندې د کرنیزو علومو، حیواني علومو، ټکنالوژي او څېړنیزو برخو کې فعالیت ترسره کوي، لهذا د اناستو پوهنتون او د فراه د لوړو زده کړو مؤسسې رهبرۍ لازمه وګڼل چې یو بل ته د ځینو ضرورتونو له مخې د ګډو همکاریو یو هوکړه لیک لاسلیک کړي چې له مخې به یې دواړه علمي نهادونه (اناستو پوهنتون او فراه د لوړو زده کړو مؤسسه) له یو بل سره خپل امکانات، نظریې او مسلکي اشخاص د همکارۍ له مخې شریکوي.

**ب: ګډون کوونکي اړخونه**

د افغانستان د کرنیزو علومو او ټکنالوژي ملي پوهنتون (اناستو) او د فراه د لوړو زده کړو مؤسسه د دغه هوکړه لیک ګډون کوونکي اړخونه دي.

**ج: موخې**

- د دوه اړخیزه تړون د شرایطو سره سم ګډو همکاریو ته پراختیا ورکول.
- د علمي تجاربو شریکول.
- د موجوده امکاناتو څخه اعظمي استفاده کول.

## دوهمه ماده

**الف: د همکارۍ ساحې**

- د کادري او مسلکي اشخاصو په ظرفیت لوړونه کې یو له بل سره همکاري کول.

- د کرنیزي ماشینري څخه مشترکه استفاده کول.
- د علمي څېړنو په برخه کي همکاري.
- د لابراتواري سهولتونو شریکول.
- د علمي برنامو په تنظیم کې له یو بل سره همکاري کول.

**ب: ګډي هوکړي(توافقات مشترک)**

- مشورتي غونډو کې ګډون کول.
- روزنیزو ورکشاپونو کې دوه اړخیزه مرستې تر سره کول.
- د عامه پوهاوي په پروګرامونو کې دوه اړخیزه مرستې ترسره کول.
- په علمي سمینارونو، روزنیز پروګرامونو، مشورو او اړوند غونډو کې چې د دواړو اړخونو د ګډون اړتیا وې، د لزوم دید په اساس برخه اخیستل.
- د څېړنیزو پروژو، مونوګرافونو لپاره معلومات او علمې سیر لپاره هر اړخیزه مرسته کول.

**ج: د دواړو اړخونو ژمني (تعهدات)**

- په هوکړه لیک کښي درج ټولو موادو ته په پوره صداقت او اخلاص کار کوو.
- د اړتیا په صورت کي به د خپل مقابل همکار سره د یوه مکتوب په ذریعه بېله کوم ځنډه غوښتل سوې همکاري ترسره کوو.

**دریمه ماده**

**الف: مالي چاري**

- که چیري یوه اداره له بلي اداري څخه ماشینري، وسایط او یا هم د ځینو موادو غوښتنه ولري نو د اړتیا سره سم به د هغه قیمت یا تعین سوې کرایه ورکوي، البته د تهیه کوونکي اداري په موافقه.
- که چیري د یوې اداري کارمندان و ټرینینګ او یا ورکشاپ ته اړتیا ولري نو بله اداره به ورسره مرسته کوي په داسي حال کي چي مالي مصارف لکه (د ټرېنر حق الزحمه، د ټرینینګ مواد، ټرانسپورټېشن او د ټرینینګ د تنظیم ټول مصارف) به د هغه اداري لخوا برابرېږي کوم چي ټرینیګ اخلي.

- د ضرورت پر اســاس که یوه اداره له بلي څخه نیالګي، تخمونه او یا ورته نور توکي اخلي نو د هغه به تعین سوی قیمت ورکوي.

**ب: د اختلافاتو حل**

- په تفاهم لیک کښــي د درج ســوي موادو د تطبیق اړوند د دواړو لوریو د نظرونو د اختلافاتو د حل په موخه په لاندي ذکر سوي میکانیزم باید عمل وسي، دریم ګړي مرجع ته د مداخلي حق نه ورکول کیږي.
- د دواړو لوریو لخوا یوه باصلاحیته کمېټه ټاکل کیږي.
- ټاکل سوې کمېټه د موضوع اړوند بحث کوي او د حل لپاره یې د پرېکړي پوره صلاحیت لري.
- که ټاکل ســوې کمېټه د دواړو لوریو تر منځ اختلاف حل نه کړای سي، کېدلای سي په جزئي یا کلي ډول پر تفاهم لیک بیا کتنه تر سره سي.

**ج: بیا کتنه، اصلاح او تغیر**

- د جزئي یا کلي بیا کتني، اصلاح او تغیر لپاره د تفاهم لیک دواړه لوري (د افغانستان د کرنیزو علومو او ټکنالوژۍ ملي پوهنتون او د فراه د لوړو زده کړو مؤسسه) کولای سي خپلي غوښتني د یوه وړاندیز په شکل په لیکلې بڼه و خپل مقابل لوري ته ولېږي.
- بیا کتنه، اصلاح او یا تغیر کوم چي د دواړو لوریو په موافقه را منځته سوی وي د یاد تفاهم لیک یوه برخه ګڼل کیږي.
- په تفاهم لیک کښي که هر ډول (بیا کتنه، اصلاح او یا تغیر) د دواړو اړخونو په موافقه راځي پر هغو حقوقو او تعهداتو چي له مخي یې تفاهم لیک لاسلیک سویدی هیڅ ډول اغېز نه لري.

## خلورمه ماده

**الف: ژبې او د ارزښت موده**

- دغه هوکړه لیک په پښتو ژبه لیکل سوی دي او د اړتیا په صورت کي به دری ژبې ته هم وژباړل سي، په دوو(۲) نسخو کښي چي هره یوه نسخه یې په برابره توګه د ارزښت وړ ده ترتیب سوه چي د دواړو پوهنتونونو د باصلاحیته ادارو د لاسلیک څخه وروسته د (۵) پنځو کلونو لپاره د تطبیق وړ ده.

**ب: فسخ او تمدید**

- دغه هوکړه لیک وروسته له (۵) پنځو کلونو په هغه صورت کښې په خودکار ډول تمدید سوی ګڼل کیږي چي د دواړو لوریو څخه د یوه هم د یاد هوکړه لیک پر فسخ کولو رایه نه وي.
- د دواړو لوریو څخه که هر یو وغواړي چي هوکړه لیک فسخ کړي درې (۳) میاشتي مخکي به خپل غوښتنه مقابل لوري ته په لیکلې بڼه د دلائلو په لرلو سره وړاندي کوي.
- نا تکمیل سوي چاري د فسخ کولو وړ نه ګڼل کیږي.

**ج: عملي کول(تطبیق)**

دغه هوکړه لیک په څلورو (۴) مادو کښي ترتیب او د دواړو پوهنتونونو د باصلاحیته استازو تر لاسلیک وروسته ابلاغ او د تطبیق وړ ده.

الحاج مولوي سید محمد داؤد اغا (هاشمي)

د افغانستان د زراعتي علومو او تکنالوژۍ

ملي پوهنتون

رئیس

نیټه: ۱۵/۵/۱۴۴۶

مولوی سمیع الله (حقاني)

د فراه د لوړو زده کړو مؤسسې

رئیس

نیټه: ۱۵/۵/۱۴۴۶